د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحریراتو آمریت**

**د تصاویبو مدیریت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

د متحدالمآل ګڼه: ۳

نېټه: ۱۳/صفرالمظفر/ ۱۴۴۵ هـ ق
مصادف: ۷/سنبله/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادي ☐ احتسابیه ☐ اطلاعیه ☐ سایر ☐

---

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۵/۲/۱۱هـق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په مشرۍ، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب، د سترې محکمې قضائي معاون محترم الشیخ محمدقاسم «راسخ» صاحب، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید «سعید» صاحب، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست محترم مولوي عطاء الله «عمري» صاحب او د یاد وزارت د قبالو ریاست رئیس محترم مولوي عبدالعلي صاحب په ګډون د پورته ذکر شوي نېټې دریم مجلس د قبالو د توزیع په اړه دائر شو چې په یاد مجلس کې محترم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د قبالو د توزیع په اړه داسې هدایت وکړ:

((دا چې له وخته په افغانستان کې قبالې محاکم ورکوي او په کاغذي بڼه یې ورکوي نو اوس دې هم ستره محکمه د قبالو توزیع شروع کړي او په کاغذي بڼه دې په هغه ورقه باندې ورکوي چې د سترې محکمې له خوا ورته جوړه شوې ده، د برېښنایي قبالو ورکړه دې تر هغه وخته پورې معطله وي تر څو د ټولو ولایتونو لپاره یې سیستم نه وي جوړ شوی البته که په خپله خوښه کوم څوک وروسته کاغذي قباله برېښنایي کوله، هغه یې کولای شي، د قبالو توزیع دې فعلاً په مرکز کابل او د ولایتونو په مرکزونو کې پیل شي.))

بناءً د قبالو د توزیع لړۍ د شروع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د یاد هدایت مطابق په ټولو ولایتونو کې د کاغذي قبالو توزیع شروع شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل - افغانستان
ټیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af